United Nations

اپریل ۲۰۱۶



عکاسي: طاهره حسنیني / یونیسف افغانستان

# پوهنه او روغتیایي پاملرنه په خطر کې

هغه کلیدي دودونه او پېښې چې په افغانستان کې پوهنې او روغتیایي پاملرنې ته د ماشومانو لاسرسی اغېزمنوي.

| وژل شوي، ټپي شوي او یا تښتول شوي خلک | خطر او ګواښ | له ښوونځي څخه پاتې شوي ماشومان | تړل شوي ښوونځي | د ښوونځیو پر وړاندې د جګړې پېښې |
|---|---|---|---|---|
| ۷۵ | ۷٤ | ۱۳۹,۰۰۰ | ۳٦۹ | ۱۳۲ |




| وژل شوي، ټپي شوي او یا تښتول شوي خلک | خطر او ګواښ | له وقایه څخه پاتې شوي ماشومان | تړل شوي کلینیکونه | د پېښو د روغتیا اسانتیاوې |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲۹ | ٦٤ | ۹۰,۰۰۰ | ۱۹ | ۱۲۵ |



انځور: اندرو کولتی

# فهرست


پېژندنه ........ ٤

پوهنه او روغتیایي پاملرنه په خطر کې: عمومي کتنه ........ ٦

پوهنه او روغتیایی پاملرنه په خطر کې: د ښوونځیو، روغتونونو او اړونده خوندي کارکوونکو پر خلاف تهدیدونه ........ ٨

پوهنه اوروغتیایي اسانتیاوې په خطرکې: د خوندي شوې پوهنې او د روغتیایي اسانتیاوې کارکوونکو باندی اغېزمن کوونکي بریدونه ........ ١٠

پوهنه او روغتیایي پاملرنه په خطر کې: پوهنې او روغتیایي پاملرنې ته مواجه خطر-تر نړیوال بشري قانون لاندې مخنیوی ........ ١٥

د ښوونځیو او روغتونونو پوځي کارونه ........ ١٩

سپارښتنې ........ ٢٤

همکاران ........ ٢٥

نوت ........ ٢٦

# پېژندنه

په افغانستان کې وسلوال جنګ لا هم په ځانګړي ډول د ماشومانو لپاره ناوړه پایلې لري. په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما او یونېسېف د ۲۰۱۴ کال په پرتله په وسلوالو جنګونو کې د ماشومانو اړوند د بشري حقونو او خوندیتوب په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی ثبت کړی دی. ماشومان د ټولو ملکي تلفاتو یو پر څلورمه برخه شمېرل شوي دي؛ په جګړه کې د ښکیلو ډلو له لوري د ماشومانو ګومارنه او کارونه دوه برابره زیاته شوې ده؛ او په جګړه کې د ښکیلو ډلو له لوري د ماشومانو تښتونه درې برابره زیاته شوې ده.[1]

تر ټولو ستره اندېښنه دا ده چې په افغانستان کې پوهنې او روغتیایي پاملرنې ته د ماشومانو په لاسرسي څنګه سودا کیږي په داسې حال کې چې یو ښوونځی یا روغتون په مستقیم یا غیر مستقیم ډول له جنګ څخه اغېزمن شوی وي. د جنګ جګړو اړونده تاوتریخوالی پر ماشومانو، ناروغانو، د پوهنې او روغتیا پر کارکوونکو او روغتیایي پاملرنې پر اسانتیاوو اغېزه کوي.

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ماشومانو په زیاتېدونکي توګه هڅه وکړه چې په افغانستان کې د ناامنۍ او د جنګ جګړو اړوند تاوتریخوالي له امله لادمخه د پوهنې او روغتیا کمزورو خدمتونو ته لاسرسی ولري. په هېواد کې د اوږدې او ځنډنۍ بېوزلۍ د لوړو کچو له امله محدودیتونه لا زیات ناوړه شوي دي.[2]

دغه راپور ثبتوي چې د جګړه مارو ډلو له لوري تاوتریخوالي، تهدیدونو او لاسوهنو د پوهنې او روغتیا کارکوونکې څه ډول اغیزمن او زیانمن کړیدی ، د روغتیایي پاملرنې شتون یې کم او د پوهنې او روغتیا ضروري خدمتونو ته د ماشومانو لاسرسی یې محدود کړ. د هدفي یرغلونو او جګړو له امله ښوونځي او روغتونونه زیانمن یا ویجاړ شول او ډېر یې د نا امنۍ، تهدیدونو یا پوځي کارونې له امله بند شول.

د دغه راپور موندنې د هغو معلوماتو پر بنسټ دي چې د یوناما او یونېسېف د بشري حقونو د ځانګې له لوري د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۵ کال د ډېسمبر تر ۳۱ نېټې پورې راټول شوي وو. دغه راپور پر هغو یرغلونو او پېښو تمرکز کوي چې چې په مستقیم ډول له جنګ جګړې سره تړاو لري – هغه حملې چې د شخصي ډلو له لوري تر سره کیږي او یا هغه جنایي جرمونه پکې ګډون نه لري چې ښوونځي یا روغتونونه یې اغېزمن کړي وي[3] هغه معلومات چې د یوې ځیړنیزې قضیې پر بنسټ د یونیسف له لوري جوړشوی هم په دی رپوټ کې ګډون لري. دغه ټول معلومات د عملي کېدو وړ نړیوال بشري قانون، د بشري حقونو نړیوال قانون، نړیوال جنایي قانون او ملي قانون او همدا راز د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د قوانینو ۱۶۱۲، ۱۸۸۲، ۱۹۹۸ او ۲۱۴۳ د چوکاټ له لارې تحلیلیږي.

د رواني نا امنۍ او د لاسرسي د خنډونو له امله په افغانستان کې څارنه او تصدیق لا هم یوه ننګونه ده. په دې ډول، چمتو شوې شمېرنې ښایي پر ماشومانو د جنګ د اغېزې د شدت او د هغو پېښو سم استازیتوب ونه کړي چې جنګي ډلو ته منسوبې دي.



انځور: اندرو کولتي

### د ښوونځيو، روغتونونو، پوهنې او روغتيايي کارکوونکو لپاره حقوقي خونديتوب

د يوناما په اند په افغانستان کې وسلوال جنګ د افغانستان د دولت د وسلوالو ځواکونو او د غير دولتي وسلوالو ډلو تر منځ يو غير نړيوال وسلوال جنګ دی.

افغانستان د ۱۹۴۹ کال د جينيوا د کنوانسيون له څلورو څخه يو او د ۱۹۷۷ کال د اضافي پروتوکول ۲خ دی، چې په يو غير نړيوال وسلوال جنګ کې د ملکيانو په خونديتوب پورې تړاو لري. تر نړيوال بشردوستانه قانون لاندې، د ښوونځيو او روغتونونو په ګډون د ملکيانو او ملکي شتمنيو پر خلاف يرغلونه په عمومي ډول منع دي. اضافي پروتوکول د تاوتريخوالي هغه کړنې او تهديدونه منع کوي چې اصلي موخه يې د ملکي وګړو تر منځ د وېرې خپرول وي.

په بريدونو کې د توپير، تناسب او پام اصول د دوديز نړيوال قانون د نورمونو په څير په کلک ډول جوړ شوی دی. دغه نورمونه وسلوالې ډلې دې ته هڅوي چې د پوځي عملياتو په ترڅ کې د ملکي وګړو او ملکي شتمنيو پام وساتي او ټول ممکن احتياطي تدابير ونيسي چې د ملکي وګړو د وژنې، ټپي کولو يا ملي شتمنيو د ويجاړولو مخه ونيسي يا يې تر ممکن بريده کم کړي.[4]

له دې پرته، افغانستان د نړيوالې جنايي محکمې د روم قانون/ پريکړه ليک هم تصديق کړی دی چې (پر هغو ودانيو قصدی يرغلونه چې پوهنې، روغتيايي پالنې يا د ناروغانو او ټپيانو د راټولونې لپاره کارول کيږي، چې پوځي ځايونه نه وي) جنګي جرم دی.[5]

له دې پرته، همدا راز افغانستان داقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړيوال توافق غړی هم دی چې هر چا ته حق ورکوي چې په په لوړې کچې دفزيکي او ذهني روغتيا څخه خوند واخلي او هر چا ته د زده کړې حق ورکوي. همدا راز، افغانستان د ماشومانو د حقونو د تړون غړی هم دی چې د پوهنې د حق ضمانت کوي[6] او " په لوړه کچه روغتيا او د درملنې اسانتياوو ته د لاسرسي حق ورکوي."[7] د ماشومانو د حقونو په کنوانسيون کې په ۲۸ او ۲۹ ماده کې پوهنې ته د لاسرسی حق په مفصل ډول بيان شوی دی.[8]

### د امنيت شورا پريکړه ليک ۱۹۹۸ – پر ښوونځيو او/ يا روغتونونو او اړونده خوندي کارکوونکو د بريدونو څارنه او راپور ورکول

د ۲۰۱۱ کال په جولای کې، امنيت شورا د ۱۹۹۸ کال پريکړه ليک تصويب کړ، چې د ماشومانو پر خونديتوب، زده کړې او روغتيايي پاملرنې د وسلوال جنګ اغېزې په ډاګه کوي او په يو ستر اقدام ټينګار کوي چې د ښوونځيو او روغتونونو خونديتوب باوري کړي.[9]

دغه پريکړه ليک "پر ښوونځيو او روغتونونو بريدونو" ته که دا پرپر ښوونځيو او روغتونونو نيغ په نيغه بريدونه وي او يا د جنګ اړوند تاوتريخوالي له امله وی په يوه سترګه ګوری. په دغه تعريف کې هغه کړنې ګډون لري چې د پوهنی او روغتيايی تاسيساتو د پوره، قسمې يا مصلحتی ويجاړونې، د فزيکي يرغلونو، خدمتونو ته د لاسرسي اغېزمنوکي ټوليز زيان، چور، تالان او خپلسرې سبب ګرځې. دا همدا راز خوندي کسانو ته زيان پورې هم تړاو لري چې په هغې وژنې، ټپي کوونې، تښتونې او د بشري ډال په توګه د ملکی کسانو کارول هم شامل دي.

په نوموړي پريکړه ليک کې په وسلوال جنګ کې ښکېلې ډلې، د پوځي مرکزونو په حيث د ښوونځيو او روغتونونو د کارولو په ګډون، د هغو کړنو مخنيوي کولو ته هڅول کيږي چې پوهنې او روغتيايي خدمتونو ته د ماشومانو د لاسرسي مخنيوی سبب ګرځې .د امنيت شورا د ملګرو ملتونو له سرمنشي څخه وغوښتل چې د نړيوال بشري قانون پر خلاف د ښوونځيو او روغتونونو د پوځي موخې لپاره د کارولو څارنې او د inter alia راپور ته دوام ورکړي.

د هغو پېښو وېشنه چې د امنيت شورا د ۱۹۹۸ کال پريکړه ليک تر پوښښ لاندې نيولې وي

په وسلوال جنګ کې پر ښوونځيو او روغتونونو د يرغلونو څارنه او راپور ورکونه

| د پوهنې اړونده پېښې | د روغتيايي پاملرنې اړونده پېښې |
| --- | --- |
| ■ پر ښوونځيو بريدونه | ■ پر روغتونونو بريدونه |
| ■ د پوهنې پر کارکوونکو بريدونه | ■ پر روغتيايي کارکوونکو بريدونه |
| ■ د بريدونو تهديدونه | ■ د بريدونو تهديدونه |
| ■ د پوځي موخو لپاره د ښوونځيو کارول | ■ د پوځي موخو لپاره د روغتونونو کارول |
| ■ د زده کړې په برخه کې نورې لاسوهنې | ■ په روغتيايي پاملرنه کې نورې لاسوهنې |

# پوهنه او روغتيايي پاملرنه په خطر کې: عمومي کتنه

## ښوونځي

”له بده مرغه، په افغانستان کی د جنگ اړونده تاوتريخوالي له امله دزده کړې پر وړاندې خنډ کومه نوې خبره نه ده. ښوونځي، په ځانګړې ډول د انجونو ښوونځي، لا هم د نا امنۍ، مستقيمو تهديدونو او د جنګي خواوو د بريدونو له امله ترلې پاتې دي. د دغو بريدونو د تر سره کوونکو د مسووليت منلو په ګډون، عملي ګامونو اخيستلو ته جدي اړتيا ده. پوهنې ته د ماشومانو د حقونو خوندي ساتل او د سرچينو شتون باوري کول څو هغوي ته وړتيا ورکړي چې له جنګ او بې ځايه کيدنې سره سره خپلو زده کړو و ته دوام ورکړي، بايد په افغانستان کې زمونږ د کار مهمه برخه تشکيل کړي. که مونږ پوهنې ته د ماشومانو د حقونو خونديتوب ونه کړای شو، د راتلونکي نسل پر سر به سودا شوې وي“– ليلا زيروګي، د ماشومانو او وسلوال جنګ په برخه کې د عمومي سر منشي ځانګړې استازې.

په ۲۰۱۵ کال کې، يوناما او يونيسف د جنګ اړوند ۱۳۲ داسي پېښې ثبت کړي دي چې پوهنه او د پوهنې کارکوونکي يې اغيزمن کړي او دا د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۸۶ سلنه زياتوالی او د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۱۰ سلنه زياتوالی ښيي. دغه ميلان ته د هغو پېښو په شمېر کې زياتوالي ته نسبت ورکول کيږي چې د پوهنې او روغتيايي کارکوونکو پر خلاف تهديدونه او وېروني پکې ګډون لري (د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۸۲ سلنه زياتوالی او د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۳۷۶ سلنه زياتوالی).

د هغو يرغلونو د زياتوالي نسبت طالبانو ته کيږي چې پر زده کړه اغېزه کوي – ۷۸ پېښې په ۲۰۱۴ کې د ۲۹ پېښو په پرتله – په ۲۰۱۱ کال کې د ملا محمد عمر له فرمان سره په مخالفت کې واقع کيږي چې له خپلو پلويانو څخه يې پر ښوونځيو د بريدونو د نه کولو او د ښوونځيو د ماشومانو د نه ځورونې غوښتنه کړې وه.[11] طالبانو همدا راز په ۲۰۱۲ کال کې اعلان کړی و چې هغوی د انجونو د زده کړې مخالف نه دي.[12]

له هغو ۱۳۲ پېښو څخه چې پوهنې ته د ماشومانو لاسرسی اغېزمن کوي، يوناما او يونيسف د دغو پېښو ستر شمېر په ختيځه سيمه کې ثبت کړي دي چې ټولې يې ۳۸ کيږي (۲۳ په ننګرهار ولايت، ۹ په کونړ، ۵ په لغمان او يوه په نورستان ولايت کې). يوناما او يونيسف ۲۷ پېښې په لويديځه سيمه کې (۱۲ په فراه ولايت، ۷ په هرات، ٦ په غور او ۲ په بادغيس ولايت کې) او همدا راز يې ۲٦ پېښې په شمال ختيځه سيمه کې (۱٦ په کندوز، ۷ په بدخشان او ۳ په بغلان ولايت کې) ثبت کړې دي.

دغه ډول پېښې د زده کړې حق، د زده کړې پر شتون، هغې ته لاسرسی او کيفيت، ډېر اغېزمن کړې . له ۳٦۹ څخه زيات ښوونځي د لږ وخت لپاره يا په بشپړ ډول بند شوي دي، چې لږ تر لږه يې ۱۳۹۰۴۸ تنه زده کوونکي (٦۵۰۵۷ هلکان او ۷۳۹۹۱ انجونې) او ٦۰۰ ښوونکي اغېزمن کړي دي.

په ۲۰۱۵ کال کې د نا امنۍ له امله د پوهنې په وړاندې له خنډونو سره سره، د دولت مخالفو عناصرو[10] د انجونو د ښوونځيو د بندولو، له ځلورم يا شپږم ټولګې څخه وروسته د زده کړې د مخنيوي او د ښځو او انجونو لپاره پر زده کړې د بشپړ بنديز په ګډون، زده کړې ته د ښځو او انجونو لاسرسی په قصدي توګه محدود کړی و.

## ماشومانو ته د تعليم لاسرسی



۱۳۹،۰۴۸

ماشومان له تعليمه بې برخې شوي دي.

## د ۲۰۱۵ کال حوادثو سره تړلی د پيښو اړوند کتنه




## د ښوونځيو سره تړلی د پيښو اړوند کتنه



## روغتیایي اسانتیاوې

"په افغانستان کې د روغتیایي اسانتیاوې پر خلاف د بریدونو پایلې د ژوند د له لاسه ورکولو څخه ډېرې ناوړه پایلې لري. افغان سړي، ښځې او ماشومان چې روغتیایي درملنې ته اړتیا لري، ښایي په ناوړه حالت کې ومري ځکه چې خلک په یوه روغتون یا کلینیک کې د خوندیتوب احساس نه کوي یا دا چې د هغوي د درملنې لپاره روغتیایي کارکوونکې شتون نه لري."

- مارک بوډن، د افغانستان لپاره بشري همغږي کوونکی

یوناما او یونېسېف د هغو پېښو په شمېر کې زیاتوالی ثبت کړی دی چې روغتیایي پاملرنې ته لاسرسی اغېزمنوي، چې په ۲۰۱۴ کال کې د ۵۹ او په ۲۰۱۳ کال کې د ۳۳ پېښو په پرتله په ۲۰۱۵ کال کې ۱۲۵ پېښې رامنځ ته شوي دي. د پوهنې د حالت په څېر، ډېرې پېښې د تهدیدونو او روغتیایي کارکوونکو د ځارنې له امله رامنځ ته شوي دي – ۶۴ پېښې د ټولو تصدیق شوو قضیو ۵۲ سلنه جوړوي.

د روغتیا اړوند پېښو یو پر دریمه برخه په ختیځه سیمه کې رامنځ ته شوي دي چې شمېر یې ۴۰ و: یوناما او یونېسېف ۲۳ پېښې په ننګرهار، ۱۰ په کونړ، ٦ په لغمان او یوه پېښه په نورستان کې ثبت کړې دي (د ټولو پړه پر دولت ضد عناصرو اچول شوې ده). په شمال ختیځه سیمه کې، یوناما او یونېسېف ۲۱ پېښې ثبت کړي دي چې د ۸ پېښو نسبت د دولت پلوه ځواکونو ته کیږي[۱۳] (۵ پېښې په کندوز او ۳ په بدخشان کې) او ۱۳ پېښو پړه پر دولت ضد عناصرو اچول کیږي ( ۹ پېښې په کندوز او ۴ په بدخشان کې). یوناما او یونېسېف ۱۸ پېښې په شمالي سیمه کې ثبت کړي دي چې د ټولو پر دولت ضد عناصرو اچول کیږي (۷ پېښې په بلخ، ۳ په فاریاب، ۳ په سمنګان، ۳ په سر پل او ۲ په جوزجان ولایت کې).

په عمومي توګه، د ټولو تصدیق شوو پېښو څخه ۱۰۹ پېښې د دولت ضد عناصرو پر غاړه اچول شوي دي چې په ۲۰۱۵ کال کې یې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی اغېزمن کړی و. یوناما او یونېسېف د ۱۵ پېښو نسبت دولت پلوه ځواکونو ته کړې دی او یوه ناڅرګنده پاتې ده.[۱٤]

د ۲۰۱۵ کال د جولای په لومړۍ نېټه، شاوخوا ۳۰ تنه افغان امنیتي ځواکونو په یوه سیمه ییز روغتون کې عملیات ترسره کړل او د شاوخوا یو نیم ساعت لپاره یې د روغتون کنټرول په لاس کې واخیست. نوموړو ځواکونو درې ناروغان ولچک کړل، دوه امنیتي ځواکونه یې ووهل، په روغتون کې دننه یې ډزې وکړې او د یوه کارکوونکي په مخ د ټوپک په اېښودلو یې تهدید کړی و. د جولای په دویمه نېټه، روغتون د راپور له مخې ۵۰ تنه غیر جدي ناروغان له روغتون څخه وویستل – چې دي کار په مستقیم ډول روغتیایي اسانتیاوې ته د خلکو د لاسرسي مخنیوی وکړ – کندوز ولایت، شمال ختیځه سیمه.

### په ۲۰۱۵ کال کې د ماشومانو زیان



۴ نه ۱

خلک په منځ کې ټپیان شوي ماشومان دي.

### د ۲۰۱۵ کال حوادثو سره تړلی د پېښو اړوند کتنه




### د صحي خدمتونو سره تړلی د پېښو اړوند کتنه



# پوهنه او روغتیایی پاملرنه په خطر کې: د ښوونځیو، روغتونونو او اړونده خوندي کارکوونکو پر خلاف تهدیدونه

په افغانستان کې د ښوونځیو، روغتونونو او اړونده کارکوونکو پر خلاف په تهدیدونو کې عام او خاص، لیکلي او شفاهي یوغړي یا یوې ډلې ته راجع، یا په مستقیم ډول د زده کړې یا روغتیا اسانتیا ته راجع تهدیدونه ګډون لري. په دې کې یو لړ پراخه ډولونه دي، لکه هغه لیکونه چې په ښوونځیو کې د انجونو د ثبت مخنیوی کوي، په عام محضر کې ځړول شوي پیغامونه، د ګرځنده ټلیفون یا رادیویي پیغامونو له لارې شفاهي یا لیکلي د مرګ تهدیدونه یا د واکسیناتورانو تهدیدول. په مداخلو کې تهدیدونه، فشار او د وېرې رامنځ ته کولو نورې کړنې ګډون لري.

## ښوونځي

د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۵ کال د ډېسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، یوناما او یونېسېف د پوهنې د کارکوونکو پر خلاف د تهدیدونو او مداخلو په پېښو کې زیاتوالی ثبت کړی دی. د ۲۰۱۵ کال په ترڅ کې، دغو پېښو په زیاتېدونکې ډول پوهنې ته د ماشومانو د لاسرسي مخنیوی وکړ او د ښوونځیو پر بندېدلو، د انجونو د زده کړې پر بندیز او فشار تمام شوی و.

په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما او یونېسېف ۱۹ هغه پېښې ثبت کړې دي چېرې چې د دولت مخالفو عناصرو په مستقیم یا غیر مستقیم ډول پوهنې ته د انجونو لاسرسی محدود کړی دی. په دغو پېښو کې مستقیم بندیزونه ګډون لري لکه: د انجونو لپاره پر زده کړې بشپړ بندیز، له څلورم یا شپږم ټولګي څخه وروسته د انجونو پر حاضرۍ محدودیتونه یا د ښځینه ښوونکو نه درلودونکو ښوونځیو کې د انجونو د زده کړې څرګند مخالفتونه. په دغو ۱۹ پېښو کې د تاوتریخوالي نورو ډولونو هم ګډون درلود چې زده کړې ته د انجونو د لاسرسي مخنیوی کوي لکه تهدیدونه او مداخلې، د دوو ښوونځیو سوځونه، دوه بمي بریدونه او د تښتونې یوه پېښه. د تهدیدونو او مداخلې له ۱۴ پېښو څخه، د ښوونکو او زده کوونکو په وړاندې د تهدیدونو ۹ پېښې د ۲۱۳ ښوونځیو د بشپړ یا یو څه موده بندېدنې لامل شوې (د ۹۴ ګډو ښوونځیو په ګډون چې یوازې د انجونو لپاره بند شول)، چې لږ تر لږه ۵۰۶۸۳ تنه انجونې یې اغېزمنې کړې. د بشپړ یا یو څه مودې بندېدلو د دغو پېښو ډېری یې په ننګرهار او هرات ولایتونو کې رامنځ ته شوې وې.

### د انجونو د زده کړې په وړاندې د دولت ضد عناصرو تهدیدونه

د ۲۰۱۵ کال د جون او ډېسمبر د میاشتو تر منځ، د دولت ضد عناصرو له لورې تر سره شوي تهدیدونه او مداخلې د انجونو د پنځو ښوونځیو او د ۹۴ ګډو ښوونځیو د ښځینه وو د ټولګیو د ځنډېدلو لامل شول چې لږ تر لږه ۲۷۱۰۳ تنه انجونې یې اغېزمنې کړې – شینډنډ ولسوالی، هرات ولایت، لویدیځه سیمه.

### د زده کړو نجونو پر وړاندې خطرونه

په ۲۰۱۵ کال کې له ۱۴ ګواښ او ډارولو پېښو څخه ۷ پېښو د ۲۱۳ ښوونځیو د تړل کېدو لامل ګرځېدلې دي چې لږ تر لږه

**۵۰,٦۸۳**

زده کوونکو اغیزمن شوي دي

### سیمه ایز لوړمونډنه

**٪۷۸**

ګواښ او ډارول په ۲۰۱۵ کال کې په شمال ختیځ، ختیځ او لویدیځ سیمو کې اټکل شوي دي.

### د ښوونځیو او زده کړو کارکوونکو پر وړاندې ګواښ او ډارول



**په ننګرهار کې د پوهنې تهديدونه – د داعش ښکارېدل**

په ۲۰۱۵ کال کې، يوناما او يونيسېف د تهديدونو او مداخلې ۱٦ قضيې ثبت کړي دي چې په ختيځه سيمه کې د پوهنې اړوند کارکوونکی يې په نښه کړي وه، په ننګرهار کې د ۱۲ پېښو په ګډون، چې په ۲۰۱۴ کال کې يې شمېر څلور او په ۲۰۱۳ کال کې هم څلور و. د "داعش – خراسان ولايت" ښکارېدنه له دغه زياتوالي سره مستقيمه اغېزه لري او د ۸ پېښو نسبت د "داعش – خراسان ولايت" ته کيږي. په دغو پېښو کې د ښوونکو د معاشونو ترورل او په ولايت کې د ٦٨ ښوونځيو په زور بنديز ګډون لري چې د لږ تر لږه ١٦٨٩٦ تنه انجونو په ګډون يې له ۴۸۷۵١ تنو څخه زيات زده کوونکي اغېزمن کړل.

## روغتيايي اسانتياوې

په ۲۰۱۵ کال کې، يوناما او يونيسېف د تهديدونو او مداخلې ٦۴ پېښې ثبت کړې چې په ۲۰۱۴ کال کې يې شمېر ۲۳ او په ۲۰۱۳ کال کې يې شمېر ۱۵ و. دغو پېښو د په زور بنديز، د کلينيکونو د چور، د روغتيايي پاملرنې د کارکوونکو د مداخلې د کړنو، د کلينيکونو د پوځي موخې لپاره د کارونې او د واکسينو د کمپاينونو د بندولو په ګډون، روغتيايي خدمتونو ته د ماشومانو په لاسرسي مستقيمه اغېزه کړې وه.


انځور: اندرو کولتی

ددولت ضد عناصرو په يوه شخصي موټر کې سفر کوونکي روغتيايي کارکوونکي ودرول، له موټره يې په زور کوز کړل، د هغوي د واکسينو الات يې ويجاړ کړل او وېې تښتول. روغتيايي کارکوونکي وروسته بېرته خوشې شول – کونړ ولايت، ختيځه سيمه، مئ ۲۰۱۵.

**د کلينيکونو بندول**

هغه تهديدونه او مداخلې چې روغتيايي کارکوونکی عمله يې په نښه کوله، د لږ تر لږه ۱۹ کلينيکونو په تړلو تمام شول، چې ۱۲ يې په ختيځه سيمه کې وو – ۱۱ په ننګرهار کې، چې د ټولو نسبت د داعش – خراسان ولايت ته کيږي او يوه پېښه په کونړ ولايت کې، چې نسبت يې دولت ضد عناصرو ته کيږي. يوناما همدا راز په مرکزي سيمه د درې نورو بندونو، يوه په لويديځه سيمه او يوه په شمالي سيمه کې د پېښو نسبت دولت ضد عناصرو ته کوي او په شمال ختيځې او شمالي سيمو کې د دوو نورو پېښو نسبت افغان ملي امنيتي ځواکونو ته کوي.

**تړل شوي کلينيکونه**

په ۲۰۱۵ کال کې د ګواښ او ډارول حادثو له امله لږ تر لږه

**۱۹**

کلينيکونه تړل شوي دي

**سيمه ايز لورموندنه**

**٪۸۰**

ګواښ او ډارول په ۲۰۱۵ کال کې په شمال ختيځ، ختيځ او لويديځ سيمو کې اټکل شوي دي.

**د صحي کار کوونکو او روغتونونو پر وړاندې ګواښ او ډارول**



# پوهنه او روغتیایي اسانتیاوې په خطر کې: د خوندي شوې پوهنې او د روغتیایي اسانتیاوې کارکوونکو باندې اغېزمن کوونکې بریدونه

د امنیت شورا پریکړه لیک ۱۹۹۸ له نړیوال قانون څخه د هر ډول سرغړونې کلکه غندنه کوي او جنګي خواوې له هغو کړنو ترسره کولو څخه مخنیوې کولو ته هڅوي چې زده کړې او روغتیایي خدمتونو ته د ماشومانو د لاسرسي مخنیوی کوي.

## ښوونځي

په افغانستان کې د پوهنې کارکوونکو، د زده کوونکو په ګډون، د دولت له لورې د پوهنې له مرکزونو څخه د زده کړې د ترلاسه کولو له امله، د دولت ضد عناصرو له مستقیمو بریدونو او تهدیدونو سره په پرلپسې توګه مخ دي. د بېلګې په توګه، یوناما د دولت ضد عناصرو له لورې د دولت په پلوري له تورن کېدلو څخه وروسته د افغانستان د دولت له لورې د ګومارل شوو ښوونکو د وژنو، وهلو، تښتونو یا تهدید ډېرې بېلګې ثبت کړي دي.

د ۲۰۱۵ کال په اپریل میاشت کې، دولت ضد عناصر د هلکانو یوه ښوونځي ته ننوتل، یوه ډله ښوونکي یې یوې کوټې ته راټول کړل، برید یې ورباندې وکړ، بیا یې دوه ښوونکي له ښوونځي څخه بیرون وویستل او په مرمیو یې ووژل – کونړ ولایت، ختیځه سیمه.

## روغتیایي اسانتیاوې

په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما او یونېسېف په لوګر، ننګرهار، بلخ، کندهار، پکتیا، غزني او کندوز ولایتونو کې د ۲۰ تنو روغتیایي کارکوونکو د وژلو او ۴۳ تنو نورو د ټپي کولو پېښې ثبت کړي دي. د دغو تلفاتو ډېره برخه د یوه هوایي برید له امله رامنځ ته شوې وه چې د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۳ مه نېټه په کندوز ولایت کې د (MSF) په یوه روغتون د متحده ایالاتو د ځواکونو له لورې ترسره شوې وه او ۴۹ تنه طبي عمله پکې وژل شوي او ټپیان شوي وو.

په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما او یونېسېف د روغتیایي کارکوونکو د تښتونې ٦٦ پېښې ثبت کړي دي – چې دا په ۲۰۱۴ کال کې د ثبت شوو تښتونو (۳۱ تښتونو) په پرتله دوه برابره او په ۲۰۱۳ کال کې د ثبت شوو تښتونو (۱۰ تښتونو) شپږ برابره زیاته شمېره ده. له یوې پېښې پرته چې د دولت پلوه ملېشې له لورې رامنځ ته شوې وه، یوناما او یونېسېف د ۲۰۱۳ کال او ۲۰۱۵ کال تر منځ ټولې ثبت شوې پېښې د دولت ضد عناصرو له لورې ګڼي.

پر روغتیایي کارکوونکو د بریدونو روانه اغېزه کې د خدمتونو په چمتو والي کې خنډ او ویجاړې شوې اسانتیاوې، د هغو خلکو ژوند او ښېګڼه په خطر کې اچول چې روغتیایي خدمتونو ته اړتیا لري او په افغانستان کې موجودو د لا دمخه غزېدلو روغتیایي خدمتونو لا زیات کمزوري کول ګډون لري.









## د پولیو د واکسینو په کمپاینونو محدودیتونه – د یونېسېف او د روغتیا د نړیوالې ادارې یو تحلیل

افغانستان یو له هغو دوو هېوادونو څخه دی چې لا هم پکې پولیو شتون لري، چې د پولیو ۲۰ قضیې په ۲۰۱۵ کال، ۲۸ په ۲۰۱۴ کال او ۱۴ په ۲۰۱۳ کال کې پکې پېښې شوې وې. د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې، پروګرام ته نه لاسرسي او نا امنۍ د پروګرام وړاندې کول اغېزمن کړي وو. د ۲۰۱۵ کال د ډېسمبر میاشتې د واکسینو په ورځو کې ۸۹۸۷۳ تنه ماشومان له واکسینو څخه بې برخې پاتې شوي وو. د دغو ماشومانو ډېرى برخه د کونړ (۱۲۶۳۸ تنه)، ننګرهار (۵۹۶۵۰ تنه) او هلمند (۱۳۴۹۳ تنه) وو. هغه ولسوالۍ چې د نا امنۍ له امله پکې د لاسرسي سترې ننګونې موجودې دي، په ننګرهار ولایت کې د چپرهار، ده بالا، کوټ، بټي کوټ، او اچین ولسوالۍ دي.

په تېره لسیزه کې طالبانو د پولیو د له منځه وړلو په ملاتړ ډېرې بیانیې خپرې کړې وې. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۱۳ مه نېټه، طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه چې د پولیو د له منځه وړلو د کمپاینونو د ملاتړ څرګندونه یې پکې په دې شرط کړې وه چې د کمپاینونو مشري باید د افغانانو په لاس کې وي او د اسلامي ارزښتونو درناوی وکړي. سره له دې په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما، یونېسېف او د روغتیا نړیوال مرکز ۲۲ هغه پېښې ثبت کړې وې چې په مستقیم ډول د واکسینو په کمپاینونو اغېزه کوي، چې د طالبانو په ګډون د دولت ضد عناصرو ته یې نسبت کېږي. په دې کې وژنې، مسموم کول او د واکسیناتورانو تښتول، تهدیدونه او مداخلې او د واکسینو د آلاتو ویجاړونه ګډون لري. له دغو ۲۲ پېښو څخه، لس پېښې په ختیځه سیمه کې ترسره شوې وې.



انځور: فریدون پویا / یوناما

### ۲۰۱۵ کال مرتکبین




### وژل شوو او ټپي شوو صحي کارکوونکو




### د صحي کارکوونکو تښتونه





انځور: اندرو کولتی



دخوندي شوې پوهنې او د روغتیایي
اسانتیاوې کارکوونکو باندی اغېزمن
کوونکي بریدونه

# پوهنه او روغتیایي پاملرنه په خطر کې: پوهنې او روغتیایي پاملرنې ته مواجه خطر – تر نړیوال بشري قانون لاندې مخنیوی

## دا څه مانا لري؟

- د ملکیانو پر خلاف هدفي/ ارداي بریدونه منع دي ښوونځیو او روغتونونو ته راجع بریدونه ښایي له نړیوال بشري قانون څخه تر سرغړاوي پورې ورسیږي، آن که دغه ډول اسانتیاوې د شپې له مخې یا د اوونیزو رخصتیو او عامه رخصتیو پر مهال بندې وي یا د نورو لاملونو له مخې بند وي، که څه هم د پوځي موخو لپاره کارول شوي نه وي.
- بې توپیره بریدونه: هغه بریدونه دي چې موخه یې کوم ځانګړی پوځي ځای نه وي؛ چې یوه طریقه یا جنګي وسایل کاروي چې پر کوم ځانګړي پوځي موقعیت برید نه شي کېدلای؛ یا دا چې کومه طریقه یا جنګي وسایل کاروي چې هغه اغېزې یې نه شي محدودې کېدلای څنګه چې یې نړیوال بشري قانون غوښتونکی دی؛ او په پایله کې، د دغه ډول هرې قضیې طبیعت له توپیر پرته د پوځي موخو کارول او د ملکیانو او د ملکي شتمنیو کارول دي.
- تناسب: "یو داسې یرغل چې د ملکي وګړو د وژنې، ټپي کېدلو، ملکي شتمنیو ته د زیان اړونې یا د دې ټولو د پېښېدلو تمه ورڅخه کیږي، له کومې چې د متوقع مستقیمې پوځي ګټې د زیاتوالي تمه کیږي، منع دی."
- په بریدونو کې پاملرنې: "ملکیان ښایي د پوځي عملیاتو څخه د رامنځ ته کېدونکو خطرونو په وړاندې له عمومي خوندیتوب څخه خوښ وي". "د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال، د ملکي خلکو او ملکي شتمنیو د خوندیتوب په موخه باید پرلپسې پاملرنه ترسره شي او د دې ټکي په نظر کې نیولو سره باید ټول شوني احتیاطي تدابیر په نظر کې ونیول شي چې د ملکي وګړو د وژنې، ټپي کولو او ملکي شمتنیو ته د زیان رسولو مخنیوی وکړي او په هره پېښه کې یې کچه کمه کړي."
- چور/ تالان او د جایداد ویجاړونه او مناسبوالی، چې د پوځي اړتیا قضاوت ورباندې نه کیږي او په خپلسري ډول ترسره کیږي: د وسلوال جنګ په ترڅ کې، دغه کړنې ښایي پر ښوونځیو او روغتونونو تر بریدونو ورسیږي، څنګه چې تر نړیوال بشري قانون لاندې منع شوي دي. دا په دې پورې اړه نه لري چې ښوونځي او روغتونونه پرانیستي یا تړلي دي، دایمي دي یا موقتي، ګرځنده دي یا نه، د طبي او ښوونځیو د ټرانسپورت په ګډون او د اسانتیاوو د پوځي کارونې او د "په ښبه کول او تښتېدل" بریدونه پکې ګډون لري.



په دیوال که دزده کوونکوزوړند کالي دکابل دیوویجاړښوونځي

انځور: سکندر دیبیبی / ملل متحد



# ښوونځي

## ډزې او د ښوونځیو نړدې والی

د یونېسېف او CARE له لورې په ۲۰۱۳ کال کې د جنګ اړوند تاوتریخوالي , له امله د اغېزمن شوو ۹۷ ښوونځیو په یوه مطالعه کې، له ۹۷ څخه په یوازې ۱۴ کې ښوونکو په مرکو کې ومنله چې د هغوی تجربه کړې پېښه د وړاندوینې او د کنترول وړ نه وه (یا غلط ځای، غلط وخت). په نورو ۸۳ قضیو هره یوه کې – د ټولیز زیان د ټولو پېښو له ۸۵ سلنې څخه زیاتو سروې شوې وه – ځواب ویونکو وویل چې د هغوی ښوونځي له هغو سیمو سره ډېر نږدې دي چې جنګې ډلې پکې موجودې دي او دا یې د هغوی اسانتیاوو، کارکوونکو یا زده کوونکو ته د پېښې پر مهال د زیان رسېدلو اصلي لامل وښود. په دغو هره یوه بېلګه کې، که چېرې د یرغل له پیل څخه مخکې جنګې ډلو د ښوونځیو او د هغوی تر منځ د واټن کموالی په نظر کې نیولی وای، ښوونکو باور درلود چې هغوی ته د اوښتي زیان کمېدلی یا یې مخنیوی کېدلی شو.



انځور: اندرو کولتی

د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۲۹ مه نېټه، د دولت یوه ډله مخالف وسلوال د انجونو یوې لېسې ته ننوتل او یو بم ته یې چاودنه ورکړه. هغوي یو تهدیدي لیک پرېښود چې د انجونو ښوونځي یې د فحاشۍ مرکزونه ګڼلي وو او دا چې ټولنه باید ښوونځي ته د انجونو لېږل بند کړي که نه نو د پاکستان د پېښور د پوځي ښوونځي په برخلیک به اخته شي. سره له دې چې ملکیانو ته کوم زیان نه و رسېدلی، د چاودنې له امله درې ټولګي ویجاړ شوي وو او د زده کوونکو او د هغوي د والدینو تر منځ یې د نا امنۍ ژور احساس رامنځ ته کړ – ننګرهار ولایت، ختیځه سیمه.

### مستقیمې حملې پر ښوونځیو باندې





انځور: اندرو کولټي

## روغتیایي اسانتیاوې

د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۳ مه نېټه، په کندوز ولایت کې د MSF پر سیمه ییز روغتون د نړیوالو ځواکونو له لورې برید له ځان سره ۸۵ تنه تلفات (۴۲ تنه مړه او ۴۳ تنه ژوبل – د ۴۹ تنه طبي عملې په ګډون) درلودل. د امریکا متحده ایالاتو او ناټو دعوه وکړه چې دغه برید یوه تېروتنه وه او روغتون د هغوي نښه نه و. نوموړی روغتون د شمال ختیځې سیمې لپاره د عصبي تکان د پاملرنې په بشپړ ډول کارکوونکی یوازینی اسانتیا وه او د ۲۰۱٦ کال د اپریل تر لومړۍ نېټې بند دی. له همدې امله، نوموړي برید د شمال ختیځې سیمې لپاره پر روغتیایي خدمتونو ویجاړوونکې اغېزه درلوده.

### د صحي تجهیزاتو غارت

په ۲۰۱۵ کال کې

## په ۱۸ حادثو کې

چې صحي تجهیزات غارت شوي دي، د ۲۳ کلینیکونو د بندېدو لامل ګرځیدلي دي

### د کلینیکونو لټون

## په ۳ حادثو کې

د دولت طرفداره پوځي ځواکونه په صحي مرکزونو کې د بیماران او صحي کارکوونکي نیولو لپاره لټون کړي دي

### مستقیمې حملې پر صحي مرکزونو باندې



**له ښوونځيو او کلينيکونو د ټاکنو د مرکزونو په توګه کار اخيستل – د ۲۰۱۴ کال ولسمشريزې ټولټاکنې**

له ښوونځيو او کلينيکونو څخه د ټولټاکنو د مرکزونو په توګه ګټه اخيستنه د نړيوال بشري قانون له مخې منع نه ده، خو په افغانستان کې د دولت او وسلوالو مخالفينو تر منځ د اوسنۍ جګړې په حالت کې دغه ډول ګټه اخيستنه د ماشومانو، ښوونکو، روغتيايي پاملرنې کارکوونکو او ناروغانو په ګډون ملکيانو ته خطر پېښوي او پوهنې او روغتيايي پاملرنې ته له حق څخه د خوند اخيستلو مخنيوی کوي. له دغو خطرونو سره سره، د ۲۰۱۴ کال د اپريل په ۵ مه نېټه – د ولسمشريزو ټولټاکنو په ورځ – ۳۵۴۶ ښوونځي او ۱۷۳ کلينيکونه په ټول هېواد کې د ټاکنو د مرکزونو په توګه کارول شوي وو. دولت ضد عناصرو په ارادي ډول د ټاکنو مرکزونه په نښه کړي وو تر څو د ټاکنو پروسه له خنډ سره مخ کړي او پر هغو امنيتي ځواکونو بريدونه وکړي چې د ټاکنو د مرکزونو ساتنه وکړي. د سلګونه ملکيانو د مړينې او ټپي کېدلو پرته، دغه ډول بريدونه د ډېرو ښوونځيو د زيانمن کېدلو يا ويجاړېدلو لامل شول او په عمومي توګه له ټاکنو وروسته ښوونځيو ته د تللو پر مهال د ماشومانو د وېرې لامل شو.

د ۲۰۱۴ کال د اپريل په ۵ مه نېټه د ټولټاکنو په ورځ، يوناما راپور ورکړ چې له ۱۷۳ کلينيکونو څخه دوه کلينيکونه او له ۳۵۴۶ د پوهنې له مرکزونو څخه ۴۵ يې د ټاکنو د موقعيتونو په توګه ټاکل شوي وو چې د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي له امله اغېزمن شوي وو.  د اپريل په ۵ مه نېټه له ولسمشريزو ټولټاکنو څخه وروسته، چې هېڅ نوماند پکې له ۵۰ سلنه رايو څخه زياتې رايې وانخيستې، د دوه مخکښو نوماندانو تر منځ د جون په ۱۴ مه نېټه د ټاکنو دويم پړاو تر سره شو. د ولسمشريزو او د ټاکنو لپاره د منډو ترړو تر منځ د ۲۰۱۴ کال د اپريل له ۵ مې نېټې څخه د جون تر ۱۴ مې پورې، يوناما ۱۷۵ ښوونځي ثبت کړي وو (چې ۸۷۵۰۰ ماشومانو ته يې زده کړه چمتو کوله) د ټاکنو د مرکزونو په توګه کارېدل چې بريدونه پرې شوي وو او د اوږد مهال لپاره تړلي پاتې شوي وو.  د جون پر ۱۴ مه نېټه، د دويم ځل منډو ترړو په دويمه ورځ يوناما پر ښوونځيو د بريدونو ۲۲ پېښې ثبت کړې دي چې ډېری يې په مرکزي، ختيځو او شمال ختيځو سيمو کې وې.



ډيو پريښودل شوی ښوونځی په ځمکه دمرميو پوچاک په چاه انجير (معروف په چانجير) کی چی دافغانستان دملی اردوله خوا دپوځی قرارګاه په توګه دنادعلی ولسوالی که کاريږی دا ښوونځی دهلمند دولايت مرکزلشکر ګاه څخه چندان لری نه ده. دطالبانو سپين بيرغ نږدی له ۱۰۰ متره ليدل کيږی. دطالبانو او ملی اردو تر مينځ هره ورځ جنګ ليدل کيږی او ډيرو سيمه ايزو خلکوخپل کورونه پريښی او سيمه ايز بازار ټول خالی دی په وروستنيو مياشتو کی دامکتب دجنګ مرکز ګرځيدلی او يو ځل مخکی له چی بيادملی اردودی لاس ته راشی دطالبانو کنترول لاندی وه.

انځور: اندرو کولتی

# د ښوونځیو او روغتونونو پوځي کارونه

پوځي کارونه یو لړ هغو کړنو ته راجع کیږي چې وسلوال ځواکونه یا وسلوالې ډلې د خپلو پوځي چارو لپاره، د لږ یا ډېر وخت لپاره، ښوونځي یا روغتونونه کاروي. په دې کې د عسکرو یا جنګیالیو د استوګنې لپاره د باراکونو په توګه د ښوونځیو یا روغتونونو کارول ګډون لري یا دا چې نوموړي اسانتیاوې د امنیتي عملیاتو په موخه د پوځي مرکزونو په توګه وکاروي. په عملي نړیوال قانون کې د پوځي موخو لپاره د ملکي ځایونو د کارونې کوم څرګند ممانعت نشته دی او له همدې امله دې کار ته د امنیت شورا منشور ۱۹۹۸ کې د سرغړونې په توګه نه لیدل کیږي.

## ښوونځي

د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۱۴۳ له مخې، پوځي موخو لپاره د ښوونځیو کارونه ښايي د بریدونو د زیاتېدونکي خطر لامل شي او همدا راز د ماشومانو زده کړې ته به زیان ورسوي او ټولې جنګي خواوې هڅوي چې د ښوونځیو درناوی وکړي او د دې تر څنګ دولت هم هڅوي چې پوځي موخو لپاره د ښوونځیو د کارونې د مخنیوي په موخه ټینګ ګامونه پورته کړي.

د دولتي وسلوالو ځواکونو له لورې د ښوونځیو د نیولو پوښتنې ته په ځواب ویلو سره، د ماشومانو د حقونو کمېټې د پوځي نیونې د بندولو او د بشري قانون او د توپیر له اصولو سره مطابقت باوري کولو سپارښت یې کړی دی. د وسلوال جنګ او نا امنۍ په نړدیوالی کې، دولتونه باید له هغو کړنو لاس په سر شي چې د پوځي موخو لپاره د ښوونځیو د کارونې په ګډون د زده کړې د پروسې مخنیوی کوي؛ د تعهد درناوی وکړي چې زده کړې ته د حق لږ تر لږه مرکزي محتوی پوره کړي چې زیان نه رسوونکی وي؛ او د زده کوونکو، ښوونکو او د زده کړې د اسانتیاوو پر خلاف د بریدونو مخنیوی وکړي او برید کوونکو ته سزا ورکړي.

ټولو جنګي خواوو، ښوونځي د پوځي موخو لپاره کارولي دي، چې په دې کې د پوځي باراکونو، ګودامونو، د امر د مرکزونو، دفاعي ځایونو، د څارنې د ځایونو او د مرمیو د ویشتلو د ځایونو په توګه د ښوونځیو کارونه ګډون لري.

د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۵ کال کې ۳۵ ښوونځي (په ۲۰۱۴ کې د ۱۲ او په ۲۰۱۳ کال کې د ۱۰ ښوونځیو په پرتله) د ۱۳۱۱ ورځو لپاره د پوځي موخو لپاره کارول شوي وو، چې ډېر (۲۴) یې د دولت پلوه ځواکونو له لورې وو. پوځي موخې لپاره د ښوونځیو کارونه له یو څو ورځو څخه نیولې تر میاشتو پورې سره توپیر لري او لږ تر لږه د ۸۹۰۵ تنو (۵۶۱۴ تنه هلکانو او ۳۲۹۱ تنه انجونو) د زده کړې مخنیوی یې کړی و. دولت ضد عناصرو لږ تر لږه ۱۱ ښوونځي په ننګرهار، نورستان، لوګر او کندوز ولایتونو کې د پوځي موخو لپاره کارولي وو.

په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما او یونېسېف په کندوز ولایت کې د پېښو تر ټولو لوړه شمېره، د دولت پلوه ځواکونو له لورې د ۱۵ ښوونځیو پوځي کارونه، ثبت کړې وه چې ٦٦٨۰ تنه زده کوونکي (۳۹۸۰ تنه هلکان او ۲۷۰۰ تنه انجونې) یې اغېزمنې کړې وې.

د ۲۰۱۵ کال د اپریل له ۲۸ څخه د سپتمبر تر ۱٦ پورې، افغان محلي پولیسو یو ښوونځی د خپلو عملیاتو لپاره نیولی و او چوکۍ او مېزونه یې د پخلي د لرګیو په توګه کارولي وو. د دغې نیونې پر مهال، نږدې ۷۰۰ تنه زده کوونکي (۳٦۰ هلکان او ۳۴۰ انجونې) او ۲۰ تنه ښوونکي (د ۸ ښځینه ښوونکو په ګډون) ښوونځي ته له لاسرسي څخه منع شوي وو – بغلان ولایت، شمال ختیځه سیمه.

### سیمه ایز لورمونده

په ۲۰۱۵ کال کې په شمال ختیځ او ختیځ سیمو کې

**د ۹۴٪**

ښوونځیو څخه د نظامي اهدافو نه کار اخیستل شوي دي

### مرتکبین




### د ښوونځیو څخه نظامی کارول





یو سرتیری د PK ماشیندار د
تیارولو په حال کې د چاه انجیر
(معروف په چانجیر) د ښوونځیو
په یوه ټولګی کې چې د
افغانستان د ملی اردو له خوا د
پوځي قرارګاه په توګه د ناد
علی ولسوالی د هلمند په
ولایت کې کارېږي.

انځور: اندرو کولتی



## د خوندي ښوونځيو اعلاميه

د ۲۰۱۵ کال په مئ کې، د افغانستان دولت يو له لومړنيو هېوادونو څخه و چې د خوندي ښوونځيو اعلاميه يې لاسليک کړې وه. د خوندي ښوونځيو اعلاميه يوه سياسي اله ده چې له لارې يې دولتونه ښايي يو لړ کلکې ژمنتياوې وکړي چې د وسلوالو جنګونو پر مهال د پوهنې غوره خونديتوب وکړي. د دغې اعلاميې په لاسليک کولو سره، د افغانستان دولت موافقه کوي چې د پاليسۍ او عملياتي کاري چوکاټونو کې تر شوني او مناسب بريده د وسلوال جنګ په ترڅ کې له پوځي کارونې څخه د ښوونځيو او پوهنتونونو د خونديتوب لپاره لارښودونه (لارښودونه) په کورنۍ ځای کړي. دغه لارښودونه ټولو جنګي خواوو، دولتي يا غير دولتي، ته لارښوونه کوي چې ښايي په پوځي مفکوره، روزنو، د ګډون په قواعدو، عملياتي ترتيباتو کې ونغاړل شي څو پوځي موخو لپاره د پوهنې د اسانتياوو کارونه کمه کړي او هغه اغېزه کمه کړي چې دغه کار يې د زده کوونکو پر خونديتوب او پوهنه لري. دغه لارښودونه تړل کېدونکي نه دي او نوي نړيوال حقوقي مجبوريتونه نه پنځوي، بلکې هغوي په روش کې د يو داوطلبانه لېږد تلقين کوي تر څو د پوهنيزو اسانتياوو د ملکي کرکټر خونديتوب په لا ښه توګه وکړي. دغه اعلاميه د افغانستان لپاره د يوه فرصت وړانديز کوي چې په وسلوال جنګ کې د پوهنې د خونديتوب او دوام فعال ملاتړ وکړي.



## روغتیایي اسانتیاوې

پوځي موخو لپاره د کلینیکونو کارونه لا هم یوه اندېښنه پاتې ده. په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما او یونېسېف پوځي موخو لپاره د کلینیکونو د کارونې ۱۰ پېښې تصدیق کړې، چې د ۸ پېښو نسبت دولت ضد عناصرو او د ۲ پېښو نسبت دولت پلوه ځواکونو ته شوی و.

د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په ۱۲ نېټه، دولت ضد عناصر دوه محلي بنسټیزو روغتیایي کلینیکونو ته ننوتل او ټول درمل او وسایل یې چور کړل. هغوی روغتیایي کارکوونکي راټول کړل او امر یې ورته وکړ چې له دولت سره د کار کولو د سزا په توګه د یوې میاشتې معاش هغوی ته ورکړي. د ۲۰۱٦ کال د جنوري په ۲۷ مه، یو کلینیک بل کلي ته انتقال کړای شو تر څو روغتیایي خدمتونه بیا له سره چمتو کړي، په داسې حال کې چې د کلینیک اصلي موقعیت لا هم اشغال دی – ننګرهار ولایت، ختیځه سیمه.

### سیمه ایز لورموندنه

په ۲۰۱۵ کال کې په شمال ختیځ او ختیځ سیمو کې

٪۸۰

صحي مرکزونو څخه د نظامي اهدافو نه کار اخیستل شوي دي

### مرتکبین




### د ښوونځیو او روغتونونو پوځي کارونه





انځور: اندرو کولتی

# سپارښتنې

### ټولې جنګي خواوې باید:

- په چټکه توګه هغه بې توپیره او بې تناسبه بریدونه بند کړي چې د ښوونځیو او روغتونونو په ګډون ملکي شتمنۍ او ملکیان په نښه کوي او اغېزمن کوي. د دغه ډول بریدونو او د تاوتریخوالي د هغو نورو کړنو د مخنیوي لپاره باید اغېزمن ګامونه واخیستل شي چې ملکیان اغېزمنوي.
- په ګڼ نفوسه سیمو کې د بریدونو د مخنیوي لپاره مخنیوونکي ګامونه پورته کړي او باوري کړي چې د نړیوال بشري قانون د توپیر، تناسب او پاملرنې د اصولو درناوی هر وخت کیږي.
- باوري کړي چې د زده کړې او روغتیایي پاملرنې حقونه د نړیوال بشري قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون سره سم عملي شوي دي.
- باوري کړي چې د زده کړې او روغتیا په ادارو، عملې او ګټه وړونکو د بریدونو ترسره کوونکي مسوول ګڼل شوي دي چېرې چې دغه ډول بریدونه د نړیوال بشري قانون او د بشري حقونو نړیوال قانون د سرغړونې تر پولې رسیږي.

### ددولت ضد عناصر

- د هلکانو او انجونو د بشري حقونو اړوند د طالبانو تر اغېزې لاندې سیمو کې د هغوی د زعامت له لوري بیانیه عملي کړي؛ پر زده کوونکو (په ځانګړي ډول انجونو)، ښوونکو، د پوهنې پر عملې، ودانیو او ادارو بریدونه او تهدیدونه بند کړي.
- د ملکیانو داسې پېژندنه عملي کړي چې له نړیوال بشري قانون سره مطابقت ولري او په ټولو پوځي عملیاتو کې د توپیر، تناسب او پاملرنې له ټولو اصولو سره توافق وکړي.
- باوري کړي چې جنګیالي، ښوونځي، روغتونونه، کلینیکونه او نورې خوندي ساحې د پوځي موخو لپاره نه کاروي.
- د واکسینو د کمپاینونو پر مهال، د پولیو واکسیناتورانو او د پولیو د واکسینو د کمپاینونو په ګډون، د بریدونو، تهدیدونو او مزاحمت مخنیوی وکړي.
- د هغوی تر کنټرول او اغېزې لاندې سیمو کې ټولو خلکو ته بشري مرستو ته لاسرسی تسهیل کړي.

### د افغانستان دولت

- د افغان امنیتي ځواکونو هغه غړي مسوول وګڼل شي چې د نړیوال قانون پر خلاف پر ښوونځیو او روغتونونو برید کوي یا یې اشغالوي او تعقیب، اغېزه کمونه او د مسوولیت جوړښت قوي کوي.
- ولسي جرګه په پرلپسې توګه د هغو سرغړونو په اړه خبره کړي چې پوهنه او روغتیایي پاملرنه اغېزمنه کړي او د دولت له لوري ګامونه پورته شي چې د زیان مخه ونیسي او د مجرمینو مسوول ګڼل باوري کړي.
- د زده کړې د حق ساتلو لپاره ګامونه پورته کړي او د ښوونځیو د پوځي اشغال په ګډون د هغو کړنو مخنیوی وکړي چې د زده کړې پروسه زیانمنوي؛ د هغه تعهد درناوی وکړي چې زده کړې ته د حق لږ تر لږه مرکزي محتوی پوره کوي؛ او د زده کوونکو، ښوونکو او د زده کړې د اسانتیاوو پر خلاف د بریدونو مسوولینو ته سزا ورکړي او مخه یې ونیسي.
- د ۲۰۱۵ کال د مئ په میاشت کې د افغان دولت له لوري د لاسلیک شوي د خوندي ښوونځي اعلامیه کې د شپږو اصولو د بشپړ پلي کولو لپاره ټول اړین ګامونه پورته کړي.
- واکسینو، په ځانګړي ډول د پولیو واکسینو، ته لاسرسی باوري کړي څو د ماشومتوب د ناروغیو او همدا راز د هغو ناروغیو مخه ونیول شي چې ښایي وروسته په ژوند کې راڅرګندې شي.
- تر ټولو ډېرې موجودې سرچینې وکاروي څو د ښه کیفیت پوهنیزو او روغتیایي اسانتیاوو، ټولو افغانانو ته د وسایلو او خدمتونو، په ځانګړي ډول د جنګ قربانیانو ډلو، لکه معیوبو ماشومانو ته، یې شتون، لاسرسی او منل باوري کړي.
- په بې توپیره بنسټ د تر ټولو ډېرې کچې موجودو سرچینو په کارولو پوهنې او روغتیا ته د حقونو د مرکزي محتوی ترسره کول باوري کړي. د دغو حقونو د مرکزي محتوی په ګټه اخیستنه کې د یوه جنګ د موجودیت پر بنسټ په انحصاري توګه په شا ته ټلونکي ګامونو قضاوت نه شي کېدلی.

### نړیواله ټولنه

- د دولت ملاتړ زیات کړي چې د جنګي خواوو د ډلو له لورې د پوځي کارونې په ګډون ښوونځیو او روغتونونو ته د زیان د مخنیوي پروګرامونه پلي کړي.
- د څارنې او راپور ورکونې روانو مېکانېزمونو ته په ملي سیمه ییزو دواړو کچو د وقف شوو سرچینو او ملاتړ باوري کول.
- د ونډه والو هڅونه چې له افغان دولت سره د هغوی د خبرو اترو د برخې په توګه د وسلوال جنګ له لوري د اغېزمن شوو ماشومانو د لا ښه خوندیتوب لپاره دفاع وکړي.

ملګري ملتونه، د ښوونځیو او روغتونونو پر خلاف د بریدونو په ګډون،د شپږو سختو سرغړونو پرلپسې څارنې او راپور ورکونې ته ژمن دی او له افغان دولت سره به د خوندي ښوونځي د اعلامیې په پلي کولو کې ملاتړ ته دوام ورکړي. یوناما او یونیسف به له ټولو جنګي اړخونو سره مشورتي هڅو ته دوام ورکړي تر څو د ښوونځیو او روغتونونو پر خلاف بریدونه کم او همدا راز د ښوونځیو او روغتونونو پوځي کارونې ته د پای ټکی کېږدي

# همکاران

## د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو د عالی کمیشنری دفتر OHCHR/ یوناما بشري حقونه:

د یوناما د بشري حقونو واحد، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېسون د دفتر د برخې په حیث، یوه عمومي تګلار تعقیبوي څو په افغانستان کې د بشري حقونو خوندیتوب او وده یا د هر افغان په ملاتړ "بشري حقونه هر چېرته په هر وخت کې د هر چا لپاره" باوري کړي. دغه تګلاره د لومړیتوب پر پنځو ساحو تمرکز کوي: په وسلوال جنګ کې د ملکیانو خوندیتوب؛ په وسلوال جنګ کې د ماشوم خوندیتوب/ حقونه؛ د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړل او د جنسیت د برابرۍ وده؛ د سولې او بیا پخلاینې د بشري حقونو اړخونه؛ او په زندان کې د څورونې او اختیاري بندي کولو مخنیوی.

د ماشومانو خوندیتوب د یوناما په بشري حقونو کې نغاړل شوی دی او د ښوونځیو او روغتونونو د خوندیتوب لپاره د اړتیا له ځانګړې رجوع سره، په منشور ۲۲۷۴ (۲۰۱۶) کې ورباندې ټینګار شوی دی او، پر روغتیایي کارکوونکو او طبي ترانسپورت او اسانتیاوو د بریدونو په ګډون، د بشري او پرمختیایي کارکوونکو پر خلاف د بریدونو د پرلپسې لوړ شمېر پېښو په اړه د امنیت شورا اندېښنې روښانه کوي. په دغه منشور کې همدا راز د ماشومانو او وسلوال جنګ د منشور ۱۶۱۲ لاندې "د ماشومانو د حقونو شېږ عمده سرغړونو" باندې د مشورې او څارنې پر اهمیت ټینګار شوی دی.

## یونیسف افغانستان:

یونیسف له ۱۹۴۹ کال راهیسې په پرلپسې توګه په افغانستان کې کار کوي، چې په دغه هېواد کې د نړیوالو ملاتړ کوونکو په ډله کې د تر ټولو ډېر وخت راهیسې خدمت کوونکي اداره ده. یونیسف په تېرو ٦۰ کلونو کې په ټول افغانستان کې د ښځو او ماشومانو حقونو ته وده ورکړې ده او تر ټولو ډېر اړتیا دړلودونکو ته د زده کړې، روغتیا، تغذیې، خوندیتوب، اوبو، روغتیا ساتنې او د ناروغیو د خپریدو د مخنیوي په ګډون، یې د بنسټیزو خدمتونو په چمتو کولو کې کار کړی دی. د ټولنو په پیاوړې کولو او سمبالولو، چې د هېواد طبیعي پوتانسیل او سرچینو ته وده ورکړي، نړیواله ټولنه په افغانستان کې سولې او ثبات ته د ودې ورکولو یو فرصت لري. د یونیسف پروګرامونه د دغو هڅو لپاره مرکزي رول لري. یونیسف په ماشومانو او وسلوال جنګ د امنیت شورا پریکړه لیک ۱۶۱۲ لاندې "د ماشومانو د حقونو په شپږو عمده سرغړونو" د مشاورت او څارنې قیمومیت لري.

## د بشري چارو د همغږۍ دفتر (OCHA)

د بشري چارو د همغږۍ دفتر د ۲۰۰۹ کال په جنورۍ کې په افغانستان کې خپل شتون بیا تاسیس کړ چې موخه یې د اغېزمنو با اصوله بشري کړنو همغږي ده. د بشري چارو د همغږۍ دفتر، د بشریت، بې طرفۍ او بې تعصبۍ د بنسټیزو بشري اصولو پر بنسټ د خپلواکې بشري مرستې لپاره وکالت کوي، وده ورکوي او همغږي کوي ، تر څو په مرکزي کړنو کې په افغانستان کې د تر ټولو ډېر یرغل ته جوړ نفوس لپاره د اړتیا پر بنسټ بشري کړنو کیفیت ته وده ورکړي؛ بشري ځوربدنه ختمه کړي، د چمتو والي وده او د مخنیوي هڅې وکړي تر څو د طبیعي افاتو په وړاندې په راتلونکې کې مقاومت زیات کړي؛ اړمندو خلکو د حقونو وکالت کوي او بنسټیزو لاملونو ته د ځواب ویلو لپاره پایښت درلودونکې حل لارې تسهیل کړي.

## دملګروملتونو د څارنې او راپور ورکولو د هیوا د کاري ځواک (CTFMR)

د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر میاشت کې، په افغانستان کې دملګروملتونو د څارنې او راپور ورکولو د هیوا د کاري ځواک CTFMR د ۱۶۱۲پریکړه لیک په تصویب تاسیس شوی و. د CTFMR معاونیت د یوناما بشري حقونه او یونیسف لری او د روغتیا د نړیوالې اداري WHO او OCHA (د بشري چارو د همغږۍ دفتر) په څېر د ماشومانو د خوندیتوب یو شمېر کلیدي فعالان پکې ګډون لري. په څارنه، د څارنې او راپور ورکوونکیCTFMR اړ دی چې د امنیت شورا په پریکړه لیک ۱۶۱۲ کې د ښودل شوو په څېر په وسلوال جنګ کې د ماشومانو له حقونو د شپږ عمده سرغړونو څارنه وکړي، راپور یې کړي او ځواب ورته ووایي: د ماشومانو وژنه او مسمومول؛ د جنګي ډلو له لورې د ماشومانو ګومارنه؛ د ماشومانو تښتونه؛ پر ښوونځیو او روغتونونو بریدونه؛ پر ماشومانو جنسي تیری او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه؛ او ماشومانو ته د بشري مرستو د لاسرسي مخنیوی.

یولس کلن ناروغ دهلمند ولایت دلشکرګاه په ایمیرجنسی روغتون کی، وروسته له یو ځانمرګی برید چی دافغان امنیتي ځواکونوکاروان باندی ترسره شو په لشکر ګاه کی سخت زخمي او راسته پښه یی په دی پیښی که له لاسه ورکړه.

# نوټ

۱. يوناما، په وسلوال جنګ کې د ملکيانو د خونديتوب کلنی راپور، ۲۰۱۵ موندلای شئ:

۲. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/pdf.۲۰۱٦_feb_۱٤_final_۲۰۱۵_poc_annual_report

۳. شاوخوا ۷۰ سلنه خلک د ورځې له دوه امريکايي ډالرو څخه کم عايد لري. OCHA، ۲۰۱٦ د بشري اړتياوو عمومي ليدنه، نوومبر ۲۰۱۵.

٤. CARE (د يونېسېف له لورې)، په ډزو کې د ښوونځيو ښکيلېدل: د يوې پلان شوې ستونزې په توګه په افغانستان کې ښوونځيو ته په اتفاقي زيان پوهېدنه (ناخپاره شوې)، ۲۰۱۳

۵. ICRC، د بشري حقونو د نړيوال دوديز قانون مطالعه، له ۱۵ تر ۲۱ قانون، کېمبريج پوهنتون مطبعه، ۲۰۰۵.

٦. د ملګرو ملتونو عمومي جرګه، د نړيوالې جنايي محکمې د روم منشور (وروستی ځل په ۲۰۱۰ کې تعديل شوی)، ۱۷ جولای ۱۹۹۸ ماده ۸ (۲) (b) (ix)

۷. له بريد څخه د پوهنې د خونديتوب نړيوال اتحاد (GCPEA)، مسوده لوسن، د وسلوال جنګ په ترڅ کې له پوځي کارونې څخه د ښوونځيو او پوهنتونونو د خوندي ساتنې لارښودونه، جون ۲۰۱۳، په دې پته موندل کېږي:

۸. " دولت ضد عناصر" ټول هغه افراد او وسلوالې ډلې رانغاړي چې د افغان دولت د ځواکونو او/ يا د نړيوالو پوځي ځواکونو پر وړاندې په وسلوال مخالفت کې ګډون لري. په هغوی کې طالبان او همدا راز هغه افراد او غير دولتي منظمې وسلوالې ډلې هم ګډون لري چې په دښمنۍ کې مستقيمه برخه لري او د حقاني شبکې، حزب اسلامي، د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طيبه، جيش محمد، داعش او نورې ملېشې او ډلې چې سياسي، اقتصادي يا ايډيالوژيکي موخې لري او نورې هغه جنايي ډلې هم پکې ګډون لري چې د يوه جنګي طرف لپاره پر دښمنۍ کې برخه لري.

۹. IRIN، دولت د ښوونځيو په اړه د طالبانو اعلاميې ته هرکلی وايي، ۲۹ مارچ ۲۰۱۱، په دې پته يې موندلی شئ:

۱۰. http://www.irinnews.org/report/۹۲۳۱۲/afghanistan-government-hails-taliban-decree-schools

۱۱. په ۲۰۱۲ کال کې په يوه خپره شوې اعلاميه کې، طالبانو اعلان وکړ چې "هغوی نه له دې پخوا او نه هم اوس د انجونو د زده کړې مخالف دي، بلکې ټينګار کوي چې دغه ډول زده کړې بايد په اسلامي چاپېريال او د اسلام له اصولو سره سمې وي"، د سنډې ټايمز د خپاره شوي راپور په ځواب کې د اسلامي امارت د وياند غبرګون، شهامت وېبپاڼه ۱٦ اګست ۲۰۱۲: http://shahamat-english.com/english/index.php/paighamoona/۲۸۸۰٦--reaction-of-spokesman-of-islamic-emirate-towards-report-published-by-%E۲%۸۰%۹۸the-sunday-times%E۲%۸۰%۹۹

۱۲. د کندوز په پنځو پېښو کې هغه هوايي بريد هم ګډون لري چې د کندوز پر MSF روغتون د نړيوالو پوځي ځواکونو له لورې د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۳ مه ترسره شو، چې ۴۹ طبي عمله پکې ووژل شوه يا ټپيان شول.

۱۳. په ۲۰۱۴ کال کې، دولت ضد عناصرو له ۵۹ پېښو څخه د ۴۴ پېښو پړه پر غاړه درلوده؛ د ۱۵ پېښو پړه پر دولت پلوه ځواکونو او لس پېښې مبهمې پاتې شوې وې. په ۲۰۱۳ کال کې، دولت ضد عناصرو له ۳۳ پېښو څخه د ۲۹ پېښو پړه پر غاړه درلوده، دولت پلوه خواکونو د دريو پېښو او يوه پېښه ناڅرګنده پاتې شوې وه.

۱٤. د جنګ اړوند تاوتريخوالي په پايله کې ښوونځيو ته د ماشومانو د لاسرسي مخنيوی شوی و

۱۵. د ۲۰۱۳ او ۲۰۱٤ کال شمېرې د هغو ماشومانو شمېر ښيي چې د ۴۵۲ تړلو ښوونځيو څخه د ۲۵ تړل شوو ښوونځيو له امله اغېزمن شوي وو

۱٦. د هرات ولايت په شينډنډ ولسوالۍ کې ډېری تړل شوي ښوونځي د دولت ضد عناصرو د مستقيمو تهديدونو او مداخلو له امله وو، ورپسې د ننګرهار ولايت په کوټ، بټي کوټ او اڇين ولسواليو کې د داعش د تهديدونو له امله وو.

۱۷. د داعش خراسان ولايت يوه جغرافيايي ساحه ده چې له ايران څخه نيولې د مرکزي اسيا هېوادونه، افغانستان، پاکستان او هندوستان پکې ګډون لري. د ۲۰۱٤ کال په نوومبر کې، يوې ډلې اعلان وکړ چې د داعش خراسان ولايت يې تاسيس کړ، چې افغانستان او پاکستان يې تر پوښښ لاندې راوستل، چې په افغانستان کې دننه د مرکز شکونه يې کېدل. په هر صورت، تر دې نېټې، په افغانستان کې د داعش د شتون لړ تصديق شوي شواهد موجود دي چې له عراق او سوريې سره تړلې وي. په يو څو ولايتونو کې، لکه ننګرهار، د جنګياليو ډلو له داعش سره د تړاو دعوه کړې ده.

۱۸. د افغانستان ۳٦ سلنه نفوس ته بنسټيز عامه روغتيايي خدمتونه چمتو شوي نه دي. OCHA، ۲۰۱٦ د بشري اړتياوو عمومي کتنه، نوومبر ۲۰۱۵، صفحه ۱۸.

۱۹. نوموړی کلينيک د ۲۰۱٦ کال په جنورۍ کې بيا پرانستل شو.

۲۰. د ۲۰۱٦ کال په جنورۍ کې د دولت ضد عناصرو له لورې يو تهديد چې په کندهار او زابل ولايتونو کې بايد د واکسينو کمپاينونه بند شي، په مختلفو کچو د خبرو اترو له لارې په بريالۍ توګه حل شو

۲۱. د طالبانو بيانيه، د پوليو واکسينو اړوند د افغانستان د اسلامي امارت اعلاميه، ۱۳ مئ ۲۰۱۳؛ په دې پته موندل کېږي: -http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/۳۱٤۱۲-declaration-of-the-islamic-emirate-ofafghanistan-regarding-the-polio-vaccination, accessed ۱۳ January ۲۰۱٤."

۲۲. ICRC ، د دوديز نړيوال بشري قانون مطالعه، لومړی قانون. د ملکيانو او جنګياليو تر منځ د توپير اصل، ۲۰۰۵، کېمبريج پوهنتون مطبعه، په دې پته موندل کېږي: https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v۱_cha_chapter۱_rule۱

۲۳. ICRC، د دوديز نړيوال بشري قانون مطالعه، ۱۲ قانون. د بې توپيره بريدونو پېژندنه، کېمبريج پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۵، په دې پته موندل کېږي: https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v۱_rul rule۱۲.

۲٤. ICRC، د دوديز نړيوال بشري قانون مطالعه، ۱٤ قانون. په بريد کې تناسب، کېمبريج پوهنتون مطبعه، ۲۰۰۵، په دې پته موندل کېږي: https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v۱_cha chapter٤_rule۱٤

۲۵. ICRC، د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ د جنيوا کنوانسيون اضافي پروتوکول او د قربانيانو له خونديتوب سره تړاو ورکول، د غير نړيوال وسلوال جنګونو (پروتوکول II)، ۸ جون ۱۹۷۷، ماده ۱۳ (۱).

۲٦. ICRC، د دوديز نړيوال بشري قانون مطالعه، له ۱۵ تر ۲۱ قانون، کېمبريج پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۵، په دې پته موندل کېږي: .https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v۱_cha

۲۷. د ۲۰۱۴ کال د ډېسمبر په ۱٦ مه، د پاکستان د تحریک طالبان د ډلې له لورې په پوځي ښوونځي برید وشو، چې د ۱۳۲ تنه د ښوونځي د زده کوونکو په ګډون ۱۴۵ تنه پکې ووژل شول.

۲۸. CARE (د یونېسېف له لورې ټاکل شوي)، په ډزو کې بند پاتې ښوونځي: د یوې پلان شوې ستونزې په توګه په افغانستان کې ښوونځیو ته په ټولیز زیان پوهېدنه (نا خپور شوی)، ۲۰۱۳.

۲۹. د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ له ۱ نېټې څخه د جون تر ۳۰ مې پورې، یوناما د دولت ضد عناصرو له لورې د ټاکنو پر پروسې د یرغلونو په پایله کې ٦۷۴ تنه تلفات (۱۷۳ مړه او ۵۰۱ ټپیان) ثبت کړي وو.

۳۰. ۳۳ د ملګرو ملتونو عمومي جرګه، د افغانستان پر حالت د ملګرو ملتونو د عمومي جرګې د امنیت شورا منشور A/٦٨/٩١٠–S/٢٠١٤/٤٢٠، ۱۸ جون ۲۰۱۴؛ /www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7B65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7D/s_2014_420.pdf

۳۱. د مختلفو سرچینو له لورې چمتو شوي معلومات د یونېسېف له لورې راټول شوي دي: د پوهنې عملې ډیپارټمنټ، د پوهنې د خوندیتوب د مامورینو د ډیپارټمنټ د ماشومانو د خوندیتوب د عمل شبکې غړي، د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب ډیپارټمنټ، د ټولنې د ودې د کمېټې غړي او د یونېسېف د MRM مامورین او د یونېسېف له لورې راپور شوي، ماشومانو لپاره بشري کړنه (افغانستان)، ۲۰۱۵، په دې پته موندل کېږي:.www.unicef.org/appeals/files/Final_HAC_Afghanistan_2015.pdf

۳۲. له برید څخه د پوهنې د خوندیتوب لپاره نړیوال اتحاد (GCPEA)، پوهنه تر برید لاندې راپور، ۲۰۱۴، موندلای شئ په: http://protectingeducation.org/sites/default/files/documents/eua_2014_full_0.pdf

۳۳. د ملګرو ملتونو عمومي شورا، ECOSOC ته د بشري حقونو لپاره د عالي کمېشنر راپور، ۱۹ مئ ۲۰۱۵، E/2015/59، پارګراف ٦۷.

۳٤. د ۲۰۱٦ کال په مارچ کې شپږ ښوونځي د پوځي موخو لپاره کارول کېدل

۳٥. د ۲۰۱٦ کال د مارچ ترمیاشتې پورې، دوه کلینیکونه د دولت ضد عناصرو او یو کلینیک د دولت پلوه ځواکونو له لورې لا هم د پوځي موخو لپاره کارېږي.

عکاس: نجیب فرزاد / یوناما



UNAMA

UNITED NATIONS HUMAN RIGHTS OFFICE OF THE HIGH COMMISSIONER

unicef

OCHA